WNJS جلالي، عبدالقدير.(۱۴۰۵). وردیکا د ټولنیزو علومو علمي څېړنیز ژورنال، ۱(۱):۷۱-۸۸

مروري

آزاده لاسرسی

# د توسعې ژورنالېزم د معیارونو له مخې د قوشتېپې کانال د رسنیز پوښښ شننه

پوهندوی عبدالقدیر جلالي[1*]

۱. ژورنالیزم څانګه، د اړیکو او ژورنالیزم پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان.

*د مسئول لیکوال بریښنالیک: qadir.jalali@gmail.com، د اړیکې شمېره: ۹۳۷۷۷٦۵۱۱٦۹+

**د مقالې تاریخچه:**
د مقالې ترلاسه کولو نیټه: ۱۴۰۴/۱۲/۵
د مقالې منلو نیټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۸
د مقالې خپرولو نیټه: ۱۴۰۵/۲/۳۰

**ددې مقالې استناد:**
جلالي، عبدالقدیر.(۱۴۰۵). د توسعې ژورنالېزم د معیارونو له مخې د قوشتېپې کانال د رسنیز پوښښ شننه. وردیکا علمي څېړنیزه د ټولنیزو علومو ژورنال، ۱ (۱):-۷۱ ۸۸

دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.

CC BY
وردګ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵)

زمونږ سره اړیکی: ۹۴۷۴۵٦۰٦۳۱۷+
**ایمیل**: rjd@wu.edu.af
**آدرس**: سیدآباد ولسوالی، ټوپ دښته میدان وردګ ولایت-افغانستان

## لنډیز

خلک هغه وخت په پرمختیايي پروګرامونو کې ګډون کوي چې د يادو پروګرامونو سره د دوی علاقمندي پيدا شي او د خپل ژوند له پرمختګ سره يې تړلي وګڼي، نو همدا رسنۍ دي چې له پرمختيايي پروګرامونو سره د خلکو مينه او ليوالتيا پيدا کوي. د توسعې ژورنالېزم د معيارونو په اساس، رسنۍ پرمختيايي پروګرامونو ته د ارزونکو او تحقيقي راپورونو په ډول پوښښ ورکوي، د دې څېړنې اساسي هدف د توسعې ژورنالېزم د اتو (8) معيارونو په اساس د آشنا، بي بي سي راډيو ګانو ، شمشاد او ملي ټلويزيونو د رسنيزې منځپانګې تحليل دی. نوموړې يوه کيفي څېړنه ده، چې د قوشتېپې دکانال مربوط پنځوس (۵۰ ) رسنيز شوي مطالب په کې په تصادفي ډول د تحليل په موخه ټاکل شوي دي. د څېړنې موندنې دا په ډاګه کوي ، چې آشنا راډيو د قوشتېپې کانال اړوند موضوعاتو ته د نورو رسنيو په پرتله ډېر پوښښ ورکړی دی. يادو رسنيو د قوشتېپې کانال اړوند په خپلو خپرو شو مطالبو کې (40.92) سلنه د توسعې ژورنالېزم معيارونو ته پاملرنه کړې. په عمومي ډول په خلکو باندې د پرګرامونو تأثير او د خلکو اړتياوو ته پاملرنه هغه معيار دی چې په تحليل شوي رسنيز پوښښ کې يادو رسنيو ورته 91.43 سلنه ارزښت ورکړی، چې په ټوله منځپانګه کې د لوړ رسنيز ارزښت ښودنه کوي. په نورو ساحو کې توسعې د اصولو پرتله کول او د لومړنيو او ترسره شوو طرحو پرتله د توسعې په ژورنالېزم کې هغه دوه معيارونه دي، چې له مخې يې رسنۍ د دولت ابتکارات او ستراتيژيکې پروژې ارزوي او راپور څېړنيز اړخ خپلوي، مګر د څېړنې پايلې څرګندوي چې نوموړو معيارونو ته يادو رسنيو تر ټولو ټيټ ارزښت ورکړی دی لوړې رسنيزې پاملرنې ښکارندويي کوي. برعکس، د توسعې د اصولو پرتله کول او د لومړنيو او عملي شوو طرحو ترمنځ مقايسه هغه دوه معيارونه دي چې رسنۍ ورسره د دولت ابتکارات او ستراتيژيکې پروژې په تحليلي او تحقيقي ډول ارزوي، خو څېړنې څرګندوي چې يادو رسنيو دغو معيارونو ته تر ټولو لږ ارزښت ورکړی دی.

**کليدي کلمې**: د توسعې ژورنالېزم، رسنۍ، رسنيز پوښښ، قوشتېپې کانال .

آزاده لاسرسی

مروري

# Analysis the coverage of Qosh Tepa Canal from the perspective of Development Journalism

Abdul Qadir Jalali*[1]
1.Journalism Defartment, Communication and journalism Faculty, Kabul university, Kabul, Afghanistan
*Corresponding author Email: qadir.jalali@gmail.com, Tel:+93798987834

**Article History:**
Received: 22. 02.2026
Accepted: 29. 03.2026
Online First: 20. 05.2026

**Citation:**
Jalali, A. (2026). Analysis the coverage of Qosh Tepa Canal from the perspective of Development Journalism . *Wardika J of Soc Sci* 2026;1(1):71-88

Email: rjd@wu.edu.af
This is an open access article under the Higher Education license

CC BY

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.

## Abstract

While people are interested in the planned programs related to public development, they also participate in these development programs, and the media is a powerful tool in this regard. According to development journalism principles, media outlets cover development programs through investigative and analytical reporting. The main objective of this study is to examine the content of Ashna Radio, BBC Radio, Shamshad News, and Mali News using (8) development journalism concepts. This is a content analysis study in which 40 media reports about Qosh Tepa Canal were randomly selected for analysis. According to the findings of this study, Ashna Radio covered more issues related to Qosh Tepa Canal the other media outlets. The media outlets in their coverage (40.92%) focused on the principles of development journalism. In general, the impact of the program and attention to the needs of the public were the principles that media coverage valued at 91.43 percent, indicating a high percentage in the overall content. Comparing and evaluating the principles of development journalism in other areas, as well as the designed and completed projects, are the two main principles of development journalism. According to these principles, the media examines government strategic projects based on these ideas, and media coverage alters its investigative and evaluating terms of journalism. However, the study's findings show that the media places the least value on these principles.

**Keywords;** Development Journalism, Media, Media Coverage, Qosh Tepa Canal

**سریزه**

د انساني ټولنو په پرمختګ کې د توسعې ژورنالېزم مهم او رغنده رول لري، ځکه دا ډول ژورنالېزم د عامه پوهاوي لوړولو، د ملي مشارکت پیاوړتیا او د مثبت ټولنیز بدلون (Positive Change)د رامنځته کولو وسیله ګڼل کېږي. په ځانګړي ډول، په وروسته پاتې او په بشري بحرانونو ځپلو هېوادونو کې د توسعې ژورنالېزم رول د پرمختللو هېوادونو په پرتله ډېر د مطالعې وړ دی، ځکه رسنۍ کولای شي د پرمختیایي پروژو له لارې د سولې، ملي یووالي او ملي ګټو مفکوره پیاوړې کړي. افغانستان د داسې هېوادونو له ډلې څخه دی چې د جګړو او اوږدمهالو بحرانونو له امله د پراختیایي پروژو د عامه ملاتړ او سم رسنیز انعکاس جدي اړتیا لري. د قوشتیپې کانال پروژه د هېواد له سترو ملي او اقتصادي پروژو څخه شمېرل کېږي چې د کرنې، اوبو مدیریت او اقتصادي بسیاینې په برخه کې مهم ارزښت لري. له همدې امله، د دې پروژې رسنیز پوښښ د توسعې ژورنالېزم له نظره ارزونه یې ځانګړی علمي او ټولنیز اهمیت لري. په نړیواله کچه د توسعې ژورنالېزم تاریخي بهیر ښیي چې دا ډول خبریالي په لومړي سر کې د اوبو بندونو، کرنې او کلیوالي پراختیا له موضوعاتو پیل شوې ده، چې د خلکو د ملاتړ د جلبولو او ملي مشارکت په پیاوړتیا کې یې مهم رول لوبولی دی. د فلیپین، هندوستان، اندونیزیا او مالیزیا تجربې څرګندوي چې رسنیو د کرنیزو اصلاحاتي پروژو په جریان کې د خلکو د پوهاوي او ګډون لپاره اغېزمن رول ادا کړی دی (Anand, 2014). همدارنګه، د افریقا په هېوادونو کې د Kwame Nkrumahله نظره رسنۍ د ملي آزادۍ او پراختیا انقلابي وسیلې بلل شوې دي . (Domatob & Hall, 1983) سره له دې چې د قوشتیپې کانال په اړه بېلابېل رسنیز راپورونه خپاره شوي، خو تر اوسه د دې راپورونو علمي او انتقادي شننه د توسعې ژورنالېزم د معیارونو پر بنسټ نه ده ترسره شوې. دا تشه د دې څېړنې اړتیا څرګندوي. د دې څېړنې موخه دا ده چې د توسعې ژورنالېزم د معیارونو له مخې د قوشتیپې کانال رسنیز پوښښ انتقادي تحلیل کړي. په دې څېړنه کې د ۱۴۰۲ کال دسنبلې دمیاشتې له ۲۰ نېټه څخه بیا د ۱۴۰۳ کال دثور دمیاشتې تر ۱۰نیټې پورې 50خبري او تحلیلي مطالب (خبرونه، راپورونه، مرکې، رسنیو ته کتنه او کالمونه) د تحلیل په موخه د نمونه اخستنې د تصادفي تګلارې په اساس ټاکل شوي دي.

## پخوانیو آثارو ته کتنه

۱. د توسعې ژورنالېزم تکامل او پراختیا

د ډله ییزو اړیکو کارپوهانو دلومړي ځل لپاره د توسعې ژورنالیزم له نظریې څخه په ۱۹۶۰ م کال کې کار واخیستو . د توسعې ژورنالیزم دپرمختیایي اړیکو سره د مترادفې کلمې په ډول کارول کېږي د توسعي ژورنالیزم مانا د رسنیو هغه مبتکرانه لاربښوونې دي چې د ژوند په بېلابېلو برخو کې نوښتونه او تغییرات رامنځته کوي (Mefalopulos, 2009; Müller & Feek, 2007). د پرمختګ تر ټولو مهم هدف همدا دی، کېدای شي هر دولت دې هدف ته د رسېدو لپاره په خپل پرمختیایي پلان کې ډېر وخت او ځانګړو کړنو ته ځای ورکړي، ځکه په نړۍ کې له 1.2 ملیون ډېر خلکو له جدي لوږې او نا مناسبو سیاسي ستونزو سره مخ دي، په دا سې حال کې چې په تېرو دریو لسیزو کې د توسعې د نظریې اساسي ټینګار یوازې په اقتصادي اړخ و. مګر د توسعې د خبریالۍ په نظریه کې اوسنی بدلون د ټولنې ټول اړخونه د هغه د ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره په ځان کې رانغاړي (McPhail, 2009). د توسعې د ژورنالیزم په اړه استدلال کېږي چې نوموړې پخوانۍ مفکوره ده، دغه مفکوره په هغه هېوادونو کې راژوندی او ومنل شوه چې د ډېر پرمختګ په حالت کې دي، یا په هغه هېوادونو کې چې هلته د پرمختګ اړوند پروژې تر کار لاندې دي. دغه مفکوره د هغو ګمانونو په اساس پالل کېږي چې له مخې یې د انټرنېټ په ګډون ډله ییزې رسنۍ کولای شي د پرمختګ په رامنځته کېدو کې اساسي رول ولوبوي او دغه پرمختګ په عامه اذهانو کې راخرګند کړي (McPhail, 2009). په نړیواله کچه د توسعې ژورنالېزم مفکوره په افریقایي هېوادونو کې هغه وخت ډېره وکاریده، چې ډېری افریقایي هېوادونو د نوي اقتصادي دور له پیل کېدو سره سم له استعماري قدرتونو څخه خپلواکي ترلاسه کړه (Odhiambo, 1991, pp. 17-21). د ښاغلي Skjerdal له انده، دغه مفکوره د ډېرو رهبرانو له خوا د دوی په دولتي سیستمونو لکه نظامي ځواک، د یوې اړخیزې دموکراسۍ سټایل، دیکټاتوري او څو ګوندیز جوړښت کې د ځینو تغییراتو په رامنځته کېدو ومنل شوه (Skjerdal, 2011, p. 26). په عمومي ډول د دې مفکورې اساسي مفهوم دا دی چې ژورنالېست باید په هېواد کې ډېر ځواکمن رول اداکړي، لکه د دولت د پالیسو خپرول، ترڅو په خلکو کې پوهاوی رامنځته شي او د دولتي پالیسیو د عملي کولو لپاره د دوی هڅول. Edeani د توسعې ژورنالېزم په اړه لیکي: د ژورنالېزم هغه ډول دی چې د خلکو د ژوند د ودې لپاره د

پالیسیو، پروګرامونو، فعالیتونو او پېښو پوښښ ته دوامداره پاملرنه کوي (Edeani, 1993, p. 12). د لومړی ځل لپاره د توسعې ژورنالېزم مفکوره په 1960 کال په جنوب ختیځ آسیا کې را ښکاره شوه، چې وروسته د Thompson Foundation په ورکشاپ کې بحث ورباندې وشو. مګر ښاغلی Skjerdal استدلال کوي چې دغه مفکوره د ژورنالیزم له انقلابي نظریې څخه سرچېنه اخلي او د انقلابي ژورنالېزم نظریه د ګانا لومړي وزیر Nkruma رامنځته کړه، هغه په افریقا کې بېلابېلې رسنۍ د دې لپاره وکارولې، ترڅو خلک د استعمار په وړاندې را وپاروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړي خپله نظریه خپره کړه او په 1970 کال په ډېر پراخ ډول خلکو له دې نظریې څخه ملاتړ (Skjerdal, 2011). وکړاوګان Ogan د توسعې د ژورنالېزم په اړه وايي: د دې نظریې له مفهوم څخه څرګندیږي چې د توسعې ژورنالېزم رامنځته کوونکو او انتقاد کوونکو دواړه ته د ژورنالېزم د دې نویې بڼې مفهوم او په عملي چاپېریال کې د کارونې تګلاره ډېره روښانه نه ده. هغه د توسعې ژورنالېزم او د توسعې اړیکې له یو بل سره په بدل شوي شکل کارولې دي. هغه په 1970م کال شخړه پیل کړه، هغه وخت چې UNESCO د توسعې د ژورنالیزم څخه د ملاتړ په موخه اعلامیه خپره کړه، ترڅو له هغه هېوادو سره مرسته وکړي چې د پرمختګ په حالت کې دي او د دوی په وړاندې پوځي او سیاسي خنډونه په نښه کړي. هغه ویل، هغه ګروپونه څوک چې د مطبوعاتو د آزادۍ ملاتړ کوي، دوی خپله د UNESCO اعلامیه او د مطبوعاتو نړیوال انستیتیوټ IPI تر پوښتنې لاندې راولي. ښاغلی اوګان Ogan په لاتین امریکا کې د UNESCO کنفرانس د بېلګې په ډول یادوي، په هغه کنفرانس کې پوهانو د نشنلیزم نظریه وړاندې کړه. هغه په دې مانا چې د رسنیو ټول ډولونه باید ملي شي او رسنۍ دې د دولت تر کنټرول لاندې وي. په همدې ترتیب دې رسنۍ د هېواد د اساسي پرمختګ لپاره کار وکړي (Ogan, 1982, p. 3). د توسعې ژورنالېزم مفکوره یواځې د ډله ییزو اړیکو د وسایلو لپاره نه کارول کېږي، بلکې هغه د اړیکو ټول چینلونه تر خپل اغېز لاندې راولي. اوګان Ogan د دې مفکورې د لومړنیو وړاندې کوونکو لکه Querrbel د فلسفې یادونه کوي. هغه وايي چې د توسعې لپار اړیکې یوازې د د ډله ییزو رسنیو لپاره کمپاین نه دی، بلکې هغه د فردي ارتباط ټولو لارو چارو ته پاملرنه کوي، لکه د دوو کسانو ترمنځ مخامخ اړیکه، د کوچني ګروپ ترمنځ اړیکې، د سټیج له لارې اړیکې، تصویر او بیلبورډ(Ogan, 1982, p.7). له دې پرته اوګان Ogan بیا د توسعې ژورنالیزم هدفمندانه، قناعت کوونکې، هدفي میلان، مخاطب ته میلان او په

طبیعي ډول مداخله ګڼي(Ogan, 1982, p.7).ځینې لیکوالان غوره ګڼي چې د توسعې ژورنالېزم مفکوره د مطبوعاتو د پنځمې تیورۍ په بڼه وړاندې شي، دوی د یوې نوې تیورۍ په شکل په دې ټینګار کوي چې، هغه هېوادونه چې د پرمختګ په حالت کې دي، دوی په یو داسې حالت کې شتون لري چې ژورنالیستان په هېڅ ډول نه شي کولی، له دوی سره د دوی د پخوانۍ ټولنې په څېر اړیکې وپالي. هغه استدلال کوي چې د مطبوعاتو څلور تیورۍ د هغو ټولنیزو او سیاسي جوړښت څخه د تیوریو د وړاندې کوونکو اخیستنه ده چې مطبوعات په هغه کې فعالیت کوي. مګر، د پرمختګ پیل او جریان د ټولنې یو ځانګړی حالت دی چې له پخواني یا سنتي حالت سره ښکاره توپیر لري. هغه پوښتنه کوي چې آیا د توسعې ژورنالېزم نوی فریم (جوړښت) دی او که یوازې د پخوانیو څلورو تیوریو تغییر Variation دی (Ogan, 1982, p.8) اوګان(Ogan) د توسعې ژورنالېزم/ اړیکو دوه مفهومي ماناوې سره بېلې کړې دي. لومړی د پرمختګ ملاتړ کوونکې اړیکې، د اړیکو دا ډول پروسې د دې لپاره کارول کېږي، ترڅو رسنۍ یوازې د دولت د پرمختیایي اهدافو لپاره کار وکړي(Ogan, 1982, p.9).په دې متن کې، د توسعې ژورنالېزم مانا انتقادي ازموینښت، ارزونه، له توسعې سره د تړلو موضوعاتو رپوټ، د قوانینو تصویب، د پرمختیایي پروګرامونو اغیزې او د دې غوښتنه چې د ډله ییزو اړیکو وسایل دې له دولت څخه مستقل شي(Ogan, 1982, p.9). پر دغه پېژندنه سربېره ، هغه استدلال کوي چې د استبدادي رېژیمونو د پلویانو نظریه له دې متن سره تړاو لري او له دې متن څخه اغېزمنه شوې ده. هغه د لینټ Lent (1977) یادونه کوي، لینټ د توسعې په ژورنالیزم کې د دولت په وسیله د رسنیو د کنټرول لپاره منطقي دلایل وړاندې کړل. ښاغلي اسماعیل شیخ یوسف احمد په خپله څېړنه کې د لینټ نظریه د مستقیم استناد په ډول را اخلي: هغه لیکي داچې د درېیمې نړۍ ملتونه اوس د پرمختګ حالت ته داخل شوي دي، دوی وخت ته اړتیا لري ترڅو د دوی بنسټیز نهادونه پرمختللي بڼه خپله کړي. د پرمختګ په لومړي دور کې دوی باید ثبات او یوالی خپل کړي، د انتقاد کچه دې ټیټه شي، په دولتي نهادونو او پالیسیو دې د عامو خلکو د باور کچه تشویق او لوړه شي. رسنۍ باید د ټولنې په پرمختګ کې د مطبوعاتو د دې لاربنود په اساس ونډه واخلي، په مثبت الهام لرونکو خبرونو دې ټینګار وکړي او هغه خبرونه دې رد کړي چې په ټولنه منفي اغېز لري، تر څو د دې ډول پوښښ په وسیله د دولتي ایډیالوژیو او پلانونو ملاتړ وشي" ( Ahmad , 2016,p.442-443). د دې متن په اساس اوګان

Ogan استدلال کوي چې د توسعې ژورنالېزم يادې لاربښوونې د مطبوعاتو د استبدادي يا آمرانه نظريې سره کوم توپير نه لري، څکه نوموړې محتوا په رسنيو باندې د حکومت کنټرول ته قانوني بڼه ورکوي. مګر، کله چې د توسعې ژورنالېزم د ارزونې يا د انتقادي تګلارې په ډول پېژندل کېږي، د نوموړې تيورۍ دغه استدلال د مطبوعاتو د اجتماعي مسؤليت له نظريې سره تړاو پيدا کوي. د پورتني بحث په اساس اوګان Ogan د توسعې د ژورنالېزم د نوي مفکورې په اړه وايي چې د توسعې ژورنالېزم له دواړو تيوريو، د مطبوعاتو د اجتماعي مسؤليت او هم د مطبوعاتو د آمرانه نظريې څخه اخيستنه ده، چې د دې اخيستنې په پايله کې يې يوه نويې نظريه رامنځته کړې ده، د هغه په وينا په زړو بوتلانو کې نوي شراب دي (Ogan, 1982,p.11). له بله اړخه، باندا Banda د توسعې د ژورناليزم په اړه ليکي چې د توسعې ژورنالېزم په تيورې دې د تاريخي تکامل په شکل بحث وشي، په ځانګړې ډول د هغه په دريو تاريخي شکلونو (Paradigms). هغه د دې تاريخي شکلونو په اړه ليکي: لومړی شکل يې د عصري کولو (Modernization) نظريه وه. دغه نظريه له 1945م څخه تر 1956م په مطبوعاتو حاکمه وه، په دې نظريه کې له شرق څخه درېيمې نړۍ ته د پرمختللې تکنالوژۍ او ټولنيز سياسي فرهنګ (Socio-Political Culture) په انتقال ټينګار کېدو. د نوموړې موضوع په اړه تفصيلي بحث کولی شو د Everett M. Rogers's په کتاب، (Diffusion of Innovation) کې مطالعه کړو (Banda, 2007, p. 155). د توسعې ژورنالېزم دوهم شکل د خپلواکه کېدو شکل (Dependency-Dissociation Paradigm) دی. د دې تګلارې په اساس د توسعې ژورناليزم د درېيمې نړۍ د راپورته کېدو له هغه غوښتنې يا خوځښت سره تړل شوی دی چې د هغې په اساس دوی غواړي د غربي عصري کېدنې د فريمونو (Wester Forms of Modernization) له حاکميت څخه خپل سياسي، اقتصادي او فرهنګي لوړوالي وساتي (Banda, 2007.p.156, ).
د دې پارادايم په اړه باندا Banda وايي چې په آسيا او افريقا سربېره هغه هېوادونه چې اوس د پرمختګ په حالت کې دي او نوي آزاد شول، دوی بېلابېل ابتکارات او ملي پروژې پلان کړې.
په دې برخه کې هغه غيرې متعهد خوځښتونه هم د يادونې وړ دي چې دوی د لوديځ او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ په سړه جګړه کې ښکيل نه شول. همدارنګه د پان-افريقايي خبري آژانس (Pan-African News Agency) چې د افريقايي ټولنې سازمان رامنځته کړه، د دې خبري آژانسونو او خبري اجنسيو اساسي هدف د افريقا او افريقايي ولس غږ ته پاملرنه او د

هغې اوچتول وو. افریقایي دولتونه په ویره کې وو چې ولې لوېدیځ مطبوعات او خبري آژانسونه افریقایي پیښې او د افریقا خلکو ته پوښښ ورکوي. افریقایانو غوښتنه وکړه چې ولې لویدیځې رسنۍ او خبري شرکتونه په لوړه کچه د افریقا په اړه منفي خبرونو ته ډېره لېوالتیا لري. د همدې موضوعاتو په اساس ځینو افریقایي رهبرانو په 1960م کال د مطبوعاتو له انقلابي تیورۍ څخه ګټه پورته کړه (Ahmad , 2016,p.443-444). باندا Banda د مطبوعاتو د انقلابي تیورۍ په اړه لیکي چې د ګانا لومړي وزیر نکرومه Nkrumah په 1963م کال د افریقایي ژورنالېستانو په دوهم کنفرانس کې د مطبوعاتو انقلابي تیوري وړاندې کړه. هغه ژورنالېستانو ته وویل چې د افریقا واقعي انقلابي مطبوعات هغه دي چې زموږ انقلابي اهداف وړاندې او تر خلکو یې ورسوي، او زموږ په لویه وچه کې یو پرمختللي سیاسي او اقتصادي سیستم رامنځته کړي. د توسعې ژورنالېزم درېیم شکل (Paradigm) خپلواکي ورکوونکی ژورنالېزم (Emancipator Journalism) دی، هغه څو اړخیز یا د پرمختګ کوم بل شکل (Paradigm) دی. (Banda, 2007,p.167). نوموړی شکل د سیمې یا محلي فرهنګي هویت ته پاملرنه کوي. نوموړې نظریه په دیموکراتیکوالي او پرمختګ کې د ټولو سطحو په ګډون ټینګار کوي (Banda, 2007,p.168). د دې لپاره چې بحث را ونغاړو، د توسعې ژورنالېزم د توسعې د اړیکو د عصري کېدو او خپلواکه کېدو له پولو د باندې کېږي، ترڅو د توسعې د هر اړخیزه کېدنې اړیکې وپالي او په بشري ټولنه کې د هراړخیز پرمختګ لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي.

**۲. دقوشتېپې کانال شالید**

د قوشتېپې کانال په افغانستان کې ترټولو ستر کانال دی، دغه کانال د بلخ ولایت دکلدارې ولسوالۍ څخه پیل دحیراتانو له دښتو، ددولت آباد او بلخ ولسوالیو څخه په تېریدو سره د جوزجان ولایت آقچې او د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالۍ کې پایته رسېږي. د دې کانال له جوړولو څخه موخه د هغو ۵۸۰۰۰۰ هکتاره ځمکو خړبول دي چې له لا تراوسه شاړې پرتې دي،دقوشتېپې کانال په یوه ثانیه کې کې۶۶۸.۴متر معکب اوبو د لېږد وړتیا لري چې په جوړېدو سره به یې وچې او شاړې دښتې په حاصلخیزو او شنو ځمکو بدلې شي (ستانکزی، ۱۳۹۹). د قوشتېپې کانال ۲۸۵کیلومتره اوږدوالی لري چې دکانال پورتنۍ برخه یې۱۵۲ متره او ښکتنۍ برخه یې ۸۵ متره پلنوالی او په دې کانال کې داوبو لوړوالی۶.۵ متره دی ، چې تر پلان لاندې

دکانال اوږدوالی43کیلومتره کېږي او پاتې ۲۴۲ کیلومتره به د 4 کلونو په موده کې د پلان له مخې وکیندل شي چې دکانال ټول اوږدوالی ۲۸۵ کیلومتره دی چې په دریو برخو وېشل کېږي. لومړی فاز یې د آموسیند څخه پیل د بلخ په دولت آباد ولسوالۍ کې پای ته رسیږي چې ټول اوږدوالی یې ۱۰۸کیلومتره کېږي .دوهم فاز یې د بلخ ولایت د دولت آباد ولسوالۍ څخه پیل د جوزجان د آقچې څخه په تېرېدو دفاریاب ولایت د اندخوی ولسوالۍ کې پای ته رسېږي چې ټول اوږدوالی یی ۱۷۷ کیلومتره کېږي . دریم فاز برخه یې دفرعی کانالونو په ویش سره پیل کېږي . ددغې سترې پروژې ټول لګښت یې ٦۰ ملیارده افغانی کېږي چې دافغانستان دملي بودجې څخه تمویلیږي چې ټولې تخنیکی چارې یې د افغان انجینرانو له خوا پرمخ وړل کېږي ( مایار، ۲۰۱۸). دغه کانال په آمو سیند جوړېږي چې د۴۰۰۰ مترو په لوړوالي دپامیر له غرونو څخه سرچینه اخلي کابو۱۱۲٦ کیلومتره په اوږدوالي سره له افغانستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان هېوادونو ترمنځ سرحد جوړوي که څه هم افغانستان یو کرنیز هېواد بلل کېږي چې کابو 80 سلنه افغانان په کرنه بوخت دي او دنفوس 55 سلنه برخه یې په مستقیم او غیرمستقیم ډول د دغه سکتور له لارې د ژوند چارې پرمخ بیایي خوله بده مرغه دکافي اوبو او ځمکې نشتوالی د کرنې نه میکانیزه کېدل، دوامداره وچکالي او د مناسب بازار نشتون هغه ننګونې دي چې افغانستان د غلودانو او نورو برخو کې وارداتوباندې تکیه لري نو د قوشتپې کانال په دغه سکتور کې ستر مثبت بدلون راوستلی شي داچې د افغانستان له۸.۷ میلیونه هکتاره کرنیزې ځمکې څخه یوازې 3.3میلیونه هکتاره ځمکه آبي ده یوازې 1.8میلیونه هکتاره کافي اوبه لري نو د دغه وضعیت بدلون د اوبولګونې سترو پروژو تطبیق ته اړتیا لري همدارنګه د قوشتپې کانال دهېواد دشمال لوېدیځ او شمالي برخو له هغو سیمو څخه تېرېږی چې د اوبو له شدید کمښت سره مخ دي چې د دغه کانال په رغونې سره به یې ۵۵۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه شي، چې دا د کرنیز سکتور په برخه کې د پام وړ بدلون راوستلی شي بله داچې افغانستان۵۷ ملیارده مترمعکب اوبه لري خو له بده مرغه یوازې ۳۰ سلنه یې په کور دننه کې استفاده کېږي او پاتې نورې یې د اوبو لګولو د کافي مدیریت د نشتوالي له کبله ګاونډیو هېوادنو ته بهیږي (مظلوم یار، ۲۰۱۹).

**د څېړنې پوښتنې**

۱. د قوشتیپې کانال اړوند موضوعاتو ته رسنۍ د کومو ژورنالیستیکو سبکونو په اساس پوښښ ورکوي؟

۲. د توسعې ژورنالېزم د معیارونو په اساس رسنۍ قوشتیپې کانال ته څرنګه پوښښ ورکوي؟

**د څېړنې تګلاره**

د قوشتیپې کانال د ستراتیژیکې پروژې خبري پوښښ تحلیل په اصل کې یوه کیفي څېړنه ده، په دې څېړنه کې د دوو نړیوالو او دوو ملي رسنیو خبري او تحلیلي منځپانګه د څېړنې د کمي تګلارې په اساس تحلیل شوې ده، په همدې اساس د څېړنې پوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره نوموړې څېړنه کمي او کیفي میتودونه په مختلط ډول کاروي. د قوشتیپې کانال د خبري پوښښ لپاره د څېړنې لومړني مواد د آشنا راډیو، بي بي سي راډیو، شمشاد تلویزیوني چېنل او آریانا ملي تلویزوني چېنل له پښتو ویب سایټونو څخه ترلاسه شوي دي، د یادونې وړ ده چې نوموړې راډیوګانې او تلویزیوني چېنلونه په افغانستان کې ډېرې پېژندل شوې رسنۍ دي او ډېر اورېدونکي او لیدونکي لري. ترلاسه شوي لومړني مواد د توسعې د خبریالۍ د هغه 8 معیارونو په اساس تحلیل کېږي چې هندي څېړونکي نرېندرا آګارولا د توسعې د خبریالۍ په برخه کې وړاندې کړي دي. په (۱) جدول کې د توسعې د خبریالۍ معیارونه او د هغې لنډه پېژندنه راوړل شوې ده.

**۱. جدول: جدول د توسعې د خبریالۍ د معیارونو ښودنه کوي**

| ګڼه | معیار | تشریح |
|---|---|---|
| ۱ | په اصولو ټینګار | رسنیز مطلب د توسعې په اصولو ټینګار کوي نه په پېښو. د توسعې په رپوټ کې پر پېښو سربیره ځانګړو اصولو ته هم پاملرنه کېږي. مخکښې رسنۍ هغه رسنۍ دي چې په ټولنه کې د پرمختګ د هڅو په اساسي والي، دیموکراتیک والي، د پرمختګ په موضوعاتو کې د مسلکي فکر په مرکزیت او په عملي او عیني کړنو تمرکز وکړي. نوموړي موضوعات د توسعې د خبریالۍ بنسټیز اصول ګڼل کېږي او د دې اصولو پر بنسټ رسنۍ څېړنیز یا تشریحي راپورنه ترتیب او وړاندې کوي. د بیلګې په ډول (د دولت د کارمندانو د تنخوا ډېروالی یوه پېښه ده). په داسې حال کې چې ( د دولت د کارمندانو د معاش بررسي کول) یو اصل دی چې د کتنې او څېړنې وړ موضوع ده. |
| ۲ | پروګرامونو ته | رسنیز مطلب طرحې، پرګرامونه، سیاستونه، مسایل او یا د توسعې موضوعات په |

| | | |
|---|---|---|
| | انتقادي کتنه | دقیقه توګه تر کتنې لاندې نیسي، د هغه منفي او یا مثبت اړخونه ارزوي، له عادي حالت څخه کیدای شي د تحقیقي یا تشریحي رپوټ بڼه خپله کړي. |
| ۳ | د موضوعاتو او طرحو شالید | رسنیز مطلب د اړوندو طرحو، سیاستونو او مسایلو سابقې ته په کتو وړاندې کېږي. په ډېرو مواردو کې، د موضوعاتو او پېښو د رامنځته کېدو او سابقې په اړه د پوهې د ترلاسه کولو په موخه د معلوماتو ترلاسه کولو ته اړتیا لیدل کېږي. رپوټ د موضوع سابقې ته په کتو په داسې ډول وړاندې کېږي ترڅو د هغه غوروالی او اهمیت څرګند شي. |
| ۴ | د راتلونکو اړتیاوو وړاندوینه | رسنیز مطلب د راتلونکې په وړاندوینې سره د توسعې اړتیاوو ته ځانګړې پاملرنه کوي. د راتلونکو اړتیاوو په برخه کې له اړوندو کارپوهانو سره ژورې خبرې او مرکې کېږي، ترڅو د توسعې اړوند د عمومي افکارو د روښانولو په برخه کې ګټور او روښانه لیدلوری خپل شي. |
| ۵ | په خلکو د پرګرامونو تآثیر او اړتیاوې | رسنیز مطلب په خلکو باندې د مسایلو، پروګرامونو، طرحو او د توسعې اړوندو موضوعاتو اغېزې ته پاملرنه کوي او د دې مسایلو په څېړلو سره د سیمې محلي او ملي اړتیاوو د پوره کولو هڅه کوي. د خبریالی له معیارونو څخه یو هم، د ټولنې له واقعي اړتیاوو سره سم د توسعې د پرګرامونو او سیاستونو تړاو دی، هغه اړتیاوې چې په اوس او راتلونکې کې د خلکو د ژوند په کچه کې غوره والی رامنځته کولی شي. |
| ۶ | په نورو ساحو کې د توسعې د اصولو پرتله | رسنیز مطلب د هېواد په نورو ساحو یا نورو هېوادنو کې د توسعې د اصولو د پرتله کولو هڅه کوي. داچې د جغرافیې نږدېوالي عامل د خبر له مهمو ارزښتونو څخه ګڼل کېږي. په همدې اساس په نورو ساحو کې د توسعې اړوند فعالیتونه کولی شي د خلکو د ګډون لپاره یو خوځونکی عامل وګڼل شي. |
| ۷ | د لومړنیو او ترسره شوو طرحو پرتله | رسنیز مطلب د دولتي چاواکو په واسطه د ترسره شویو پرګرامونو د موفقیت ادعا ته کتنه کوي. د مواردو په ځینو برخو کې د ځینې دلایلو په اساس لکه د بودیجې کمښت، د مدیریت نه شتون، او د نورو لومړنیو طرحو نیمګړتیاوې، د هغه په پرتله چې ترسر شوې دي ډېر توپیر لري، تر دې چې په ځینو مواردو کې پوره توپیر لري. |
| ۸ | پلانونو د کامیابی د ادعاوو کتنه | رسنیز مطلب د دولتي چارواکو د پلانونو د کامیابي ادعاوې مطالعه کوي. د هغه پروګرامونو څېړنه او مطالعه چې د ډېرو لوړو لګښتونو درلودونکې ده او هغه ادعاوې چې د دغه پرګرامونو د کامیابي په اړه یې د هغوی مسؤلین کوي، نوموړې هغه موارد دي چې د توسعې په خبریالی کې د پاملرنې وړ ګرځي. |

د منځپانګې د تحلیل لپاره د آشنا ، بي بي سي نړیوالو راډیوګانو، د شمشاد او ملي تلویزیون له پښتو ویب سایټونو څخه د ۱۴۰۲ ل کال د سنبلې میاشتې له ۲۰ نیټې څخه بیا د ۱۴۰۳ کال د ثور میاشتې تر ۱۰ نیټې پورې ۵۰ خبري او تحلیلي مطالب (خبرونه، راپورونه، مرکې، رسنیو ته

کتنه او کالمونه) د تحلیل په موخه د نمونه اخستنې د تصادفي تګلارې په اساس ټاکل شوي دي. ټاکل شوی هر رسنیز مطلب د 8 معیارونو په اساس د ډېر دقت له مخې مطالعه شوی چې وروسته په MS Excel پرګرام کې کوډ او د همدې پروګرام په اساس تر مطالعې لاندې ارقام تحلیل شوي دي. د قوشتېپې د کانال د جوړولو طرحه د داود خان وه او ولسمشر غني یې کارونه پیل کړل، په ۱۳۹۹ کال کې یې د افغانستان ملي شرکت ته د جوړولو امر وکړ په ۱۴۰۰ کال کې ۵۰۰ میلیونه ډالر بودجه ورته پیدا او د کیندنې چارې یې پیل شوې، خو د افغانستان له فتحې وروسته یې چارې وځنډېدلې، چې د بیا ځل لپاره یې د اسلامي امارت له خوا افتتاح او چارې یې پیل کړې. د همدې مهمو ټکو په اساس یاده خبري دوره د رسنیز پوښښ د تحلیل په موخه ټاکل شوې ده.

### تحلیل او موندنې

په ټولیز ډول د ټاکل شوو رسنیو له ویب سایټونو څخه 50 رسنیز مطالب د تحلیل په موخه ټاکل شوي دي، په یادو مطالبو کې څلور کالمونه، څلور مرکې، څلورو رسنیو ته کتنې، اوه ویشت راپورونه او یوولس خبرونه تحلیل شوي دي.

۲. جدول: د ډول له مخې د رسنیزو مطالبو ښودنه کوي

| رسنۍ | | کالمونه | مرکې | رسنیو ته کتنه | راپورونه | خبرونه | مجموعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نړیوالې رسنۍ | آشنا | 0 | 0 | 2 | 11 | 4 | 17 | 50 |
| | بي بي سي | 4 | 0 | 2 | 7 | 0 | 13 | |
| ملي رسنۍ | شمشاد | 0 | 2 | 0 | 3 | 2 | 7 | |
| | ملي | 0 | 2 | 0 | 6 | 5 | 13 | |
| مجموعه | | 4 | 4 | 4 | 27 | 11 | **50** | |


د آشنا، BBC، شمشاد او ملي ټلویزونو د رسنیزو منځپانګو د تحلیل موندنې څرګندوي چې یادو رسنیو په خپلو پښتو ویب سایټونو کې د قوشتېپې کانال اړوند 98 رسنیز مطالب (خبرونه، راپورونه، مرکې، رسنیو ته کتنې او کالمونه) خپاره کړي دي. له یاد شمېر څخه 50 رسنیز مطالب

تحلیل شوي دي. دا چې آشنا راډیو له 2021 د جون له 5 نیټې لس مطالب او BBC راډیو هم د 2020 د اپریل له 20 نیټې څخه لس مطالب په خپلو ویب سایټونو کې خپاره کړي وو، له دې نېټې مخکې د دوی په سایټونو کې اړوند مطالبو شتون نه درلود. په همدې اساس د شمېر د کموالي په اساس د آشنا او BBC راډیو ګانو ټول ترلاسه شوي مطالب تحلیل شوي دي. د ژورنالېستیکو سبکونو په اساس د څېړنې موندنې څرګندوي چې رسنیو د قوشتېې کانال اړوند مطالب تر ډېره د خبر او راپور په چوکاټونو کې وړاندې کړي دي. په ۳ جدول کې د یادو رسنیو ۵۰ راپورونه د توسعې ژورنالېزم د ۸ معیارونو په اساس تحلیل شوي دي، د تحلیل موندنې به د سلنې له مخې په لاندې ډول وړاندې شي.

**۳. جدول: د توسعې ژورنالېزم د ۸ معیارونو پر اساس د رسنیو ۵۰ راپورنه تحلیل**

| **ګڼه** | معیارونه | نړیوالې رسنۍ | | ملي رسنۍ | | منځنۍ کچه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | آشنا | بي بي سي | شمشاد | ملي | |
| 1 | په اصولو ټینګار | 57.1% | 50% | 66.6% | 44.4% | 54.5% |
| 2 | پرګرامونو ته انتقادي کتنه | 21.4% | 70% | 50% | 11.1% | 38.1% |
| 3 | د موضوعاتو او طرحو شالید. | 57.1% | 60% | 50% | 33.3% | 50.1% |
| 4 | د راتلونکو اړتیاوو وړاندوینه | %۵۰ | 50% | 33.3% | 44.4% | 42.5% |
| 5 | د خلکو اړتیاوې او پرخلکو د پروګرامونو تاثیرات | 85.7% | 80% | 100% | 100% | 91.4% |
| 6 | په نورو ساحو کې د توسعې د اصولو پرتله کول | 2%.14 | 0 | 16.6% | 0 | 7.7% |
| 7 | د لومړنیو او ترسره شوو طرحو پرتله کول | 2%.14 | 10% | 0 | 0 | 6.07% |
| 8 | د پلانونو د کامیابۍ د ادعاوو کتنه | 21.4% | 30% | 50% | 45.5% | 36.7% |
| | منځنۍ کچه | 40.13% | 43.75% | 45.8% | 34.8% | 40.88% |

د ۳ جدول په اساس د څېړنې موندنې څرګندوي چې په ټولیز ډول آشنا ، BBC، ملي او شمشاد په خپلو رسنیزو مطالبو کې 40.3% د توسعې ژورنالېزم معیارونو ته پاملرنه کړې ده. په تحلیل شوو مطالبو کې تر ټولو لوړ ارزښت د خلکو اړتیاوو او په خلکو باندې د پروګرامونو تاثیر ته




۱.ګراف: د توسعې ژونالیزم د ۸ معیارونو په اساس د رسنیو پرتلیزه سلنه

ورکړل شوی دی، چې د یادو رسنیو په منځپانګه کې نوموړې معیار ته 91.4% ارزښت ورکړل شوی. په اصولو ټینګار دوهم تر ټولو ډېر کارول شوی معیار دی چې یادو رسنیو 54.5% ارزښت ورکړی دی. په درییم قدم کې د موضوعاتو طرحو او شالید ته ډېره پاملرنه شوې ده، د څېړنې موندنې څرګندوي چې یادو رسنیو د قوشتیې کانال په اړوند موضوعاتو کې نوموړي معیار ته 50.1% ارزښت ورکړی دی. که په جدول کې شپږم معیار (په نورو ساحو کې د توسعې د اصولو پرتله کول)، او اووم معیار (د لومړنیو او ترسره شوو طرحو پرتله کول) مطالعه شي د څېړنې موندنې څرګندوي یادو رسنیو نوموړو دوو معیارونو ته تر ټولو ټیټ (7.7% او 6.07%) ارزښت ورکړی، په داسې حال کې چې د توسعې په ژورنالېزم کې نوموړي دواړه هغه معیارونه دي چې له مخې یې رسنیز مطلب څېړنیزه بڼه خپلوي او ژورنالېست دې ته هڅوي ترڅو د موضوع په پوښښ کې د پرمختیایي پروګرام هراړخیزه ارزونه وکړي، د پلان شوي پروګرام او د هغو د کیفیت اړوند لومړي اسناد له تر سره شوو عیني شواهدو سره پرتله کړي. که په ځانګړې ډول د هرې رسنۍ منځپانګه مطالعه شي، لیدل کېږي چې په نړیوالو رسنیو کې BBC د قوشتیې کانال په رسنیز پوښښ کې د توسعې ژورنالېزم معیارونو ته 43.75% پاملرنه کړې ده، مګر آشنا

راډیو خپل 40.13%رسنیز مطالب د توسعې معیارونو ته په کتو وړاندې کړي دي، چې د BBC په کچه د ټیټ ارزښت ښودنه کوي. که د ټاکل شوو ملي رسنیو پوښښ مطالعه شي، څرګندېږي چې شمشاد تلویزون په خپله نشراتي منځپانګه کې د توسعې ژورنالېزم معیارونو ته 45.8% ځای ورکړی دی. مګر د ملي تلویزیون د تحلیل شوې منځپانګې پایله څرګندوي چې نوموړي تلویزیون د قوشتېپې کانال د مطالبو په پوښښ کې د توسعې ژورنالېزم معیارونو ته 34.8% ارزښت ورکړی دی، چې په ټوله ځېړنه کې د ټیټ ارزښت ښودنه کوي. د تحلیل د عمومي پایلې په ډول ویلی شو چې یادو رسنیو د قوشتېپې کانال په رسنیز پوښښ کې د توسعې ژورنالېزم معیارونو ته په منځنۍ کچه هم ارزښت نه دی ورکړی. نوموړې هغه موضوع ده چې په مناقشه کې باید بحث وربانديې وشي.

**مناقشه**

قوشتېپې کانال دافغانستان لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه ده .چې د رسنیو له پوښښ څرګندېږي چې نوموړی کانال د افغانستان لپاره ستراتیژیک ارزښت لري، او نوموړې پروژې د لومړي فاز د تکمیل پر وخت کې د بل هر وخت په پرتله لوړ رسنیز پوښښ ترلاسه کړی دی. په نوموړې کانال هغه وخت کار شروع شو چې په افغانستان کې نوي حکومت په کار پیل کړی و، د جګړې او سولې موضوعات تر ټولو ګرم رسنیز موضوعات وو. له بله اړخه د افغان جګړې د پای ته رسېدو او راتلونکي حکومت د جوړښت په اړه د ترکیې کنفرانس او په دې اړه د عامه ذهنیت جوړوني موضوع هم په رسنیو کې د ښکیلو اړخونو لپاره یوه بله مهمه موضوع وه. د عامه افکارو د تیوریو په اساس، په عامه ذهنیت جوړونه کې د قوشتېپې کانال په څیر د ټولګټو پروژو پلانول او یا د دې ډول پروژو پیلول مهم رول لري. ځکه ټولګټې پروژې د خلکو په ژوند مستقیم تأثیر لري او په اوږد مهال ډول خلکو ته کاري فرصتونه برابرولی شي. له بله اړخه ځینې رسنۍ په افغانستان کې د اوبو د مهارولو موضوع ته د ظالم او مظلوم په ډول پوښښ ورکوي په داسې ډول چې د همسایه هېوادونو او افغانستان ترمنځ اختلافات لاپیاوړي کوي. په دې ډول پوښښ کې BBC تر ټولو مخکښه رسنۍ ده، نوموړې رسنۍ د 1404د غبرګولي په 1نیټه لیکي

(...چې د قوش تېپې کانال "د اورال سمندرګي پر تابوت وروستی مېخ دی" چې یو وخت د سیمې تر ټولو لوی سمندرګی و.. له بله اړخه که د BBC فارسي سایت مطالعه شي، د افغانستان او همسایه هېوادونو ترمنځ د هغه موضوعاتو په اړه ریوټ ورکول کېږي چې د ګاونډیانو او افغانستان ترمنځ د اوبو ستونزه نوره هم پیچلې کوي، (مظلوم یار، 1399). د اړیکو د تیوریو له مخې BBC نوموړې موضوع ته د ګټونکي او بایلونکي په ډول پوښښ ورکوي. د توسعې ژورنالېزم د تیوریو له اړخه د رسنیو دا ډول پوښښ پرمختیایي پروګرامونو ته زیان رسوي او د هېوادونو ترمنځ د اړیکو ثبات له منځه وړي. د توسعې ژورنالیزم د رامنځته کېدو یوازینی لامل هم د غربي نړۍ د دې ډول پوښښ په وړاندې د داسې رسنیزو چینلونو رامنځته کول وو چې ملي خوځښتونو ته ژمن وي، ملي ابتکارات او پرمختیایي پروژو ته په مسؤلانه ډول پوښښ ورکړي. د غربي عصري کېدنې د مفکوري پر ځای د خپلو سیاسي، فرهنګي او اقتصادي ارزښتونه لوړوالی ته کار وکړي(Banda, 2007) .

**پایله**

د توسعې ژورنالېزم د معیارونو په اساس د څېړنې پایلې څرګندوي چې یادو رسنیو د قوشتیپې کانال په رسنیز پوښښ کې د توسعې ژورنالېزم اصولو ته په ډېره ټیټه کچه پاملرنه کړې ده. په تحلیل شوو مطالبو کې د توسعې ژورنالېزم له څلورو اصولو (هر اړخیزتوب، دموکراتیک والي، مسلکي فکر او عملي یا عیني واقعیتونو) څخه یوه یا دوو ته ځای ورکړل شوی دی. د دوهم معیار په اساس، موضوعات تر ډېره د عادي راپورونو په بڼه وړاندې شوي دي، رسنیز موضوعات پیاوړې انتقادي روحیه نه لري، یادو رسنیو یوازې 38.13 سلنه د موضوعاتو انتقادي پوښښ ته پاملرنه کړې ده. دا چې په ځانګړي ډول قوشتیپې کانال او په عمومي ډول د پرمختیایي پروژو په تاریخي شالید بحث وشي او د تاریخ په اوږدو کې د نوموړو پروژو د وضعیت او خنډونو په اړه رسنۍ موضوعات راوسپړي، نوموړې موضوع د یادو رسنیو په پوښښ کې په منځنۍ کچه په نظر کې نیول شوې وه، چې د انتقادي کتنې د معیار په اساس د قناعت وړ نه ده. د ستراتیژیکو پروژو اړوند راتلونکې اړتیاوې چې د افغانستان په څېر هېواد کې د نوموړو

پروژو د لاپراختیا او د ساتنې په برخه کې باید کوم تدابیر په نظر کې ونیول شي، د نوموړي بند د بیا رغونې چارې ژنګه سمبال شي، آیا اړوند اداري په دې برخه کې د قناعت وړ پلانونه لري؟ په تحلیل شوي خبري پوښښ کې نوموړو موضوعاتو ته هم یوازې 42.59 سلنه ارزښت ورکړل شوی دی. د پرمختیایي پروژو له پلانولو څخه اساسي هدف د خلکو اړتیاوو ته پاملرنه او د خلکو په ژوند کې مثبت بدلون دی، د څېړنې پایلې څرګندوي چې یادو رسنیو د خلکو په اساسي اړتیاوو ټینګار کړی، چې د دې بند په اساس به خلکو ته کاري فرصتونه پیدا شي، شاړې دښتې به وکرل شي او افغانستان به دغلو دانو له لحاظه پرځان بسیا کړي د توسعې ژورنالېزم د تیوریو په اساس د خلکو د اړتیاوو په اساس پرمختیایي پروژو ته پوښښ ورکول به په ټولنه کې د مثبت تغییر لامل وګرځي. که په افغانستان کې د پرمختیایي پروژو اوسنی او مخکنی حالت مطالعه شي، څرګندیږي چې په اوس او پخوا کې د قوشتېپې کانال ته ورته د اوبو بندونه پلان شوي دي، لکه په فراه کې بخش آباد، په هرات کې سلما، هلمند کې کجکی، کابل کې شاتوت، شاه او عروس، او ورته نور بندونه، د توسعې ژورنالېزم د معیارونو له مخې باید د قوشتېپې کانال د جوړېد چارې، ظرفیت، د نوموړي کانال په وړاندې خنډونه او راتلونکې چارې له ورته نورو پروژو سره پرتله شي، ځکه یوازې توصیفي راپورنه د نوموړو پروژو په دوامداره ساتنه او پاینښت کې ګټور رول نه شي لرلی.

که په عمومي ډول د نوموړې څېړنې پایلې مطالعه شي، لیدل کېږي چې رسنیو د قوشتېپې کانال موضوع ته لوړ خبري پوښښ ورکړی، مګر تحلیل شوی رسنیز پوښښ د توسعې ژورنالیزم د معیارونو او مسلکي فکر له اړخه د قناعت وړ نه دی. دا هغه پوښتنه ده چې د ځواب لپاره یې باید پلټنه وشي، د رسنیو کمزوري نقاط په نښه او د هغو د له منځه وړلو لپار په سیستماتیک ډول کار وشي. ترڅو رسنی د ټولنې په وړاندې خپل مسؤلیتونه په ښه ډول ادا کړي او د ټولنیزو ناخوالو په له منځه وړلو کې ګټور رول ولوبوي.

**وړاندیزونه**

۱. رسنۍ باید د توسعې ژورنالیزم په برخه کې خپلو ژورنالیستانو ته منظم او مسلکي روزنیز ورکشاپونه جوړ کړي، تر څو هغوی وکولای شي پرمختیايي پروګرامونو او پروژو ته د مسلکي او تحلیلي فکر پر بنسټ اغېزمن پوښښ ورکړي.

۲. توسعې ژورنالیزم د افغانستان په خبر هېوادونو کې د پرمختګ او ثبات لپاره مهم دی او رسنۍ باید په پرمختیايي پروژو کې دې ته پاملرنه وکړي.

**اخځلیکونه**


مظلوم یار، فیاض ګل. (1399). د قوشتېپې کانال سیاسي او اقتصادي ارزښت او د افغانستان د اوبو د مهار ګټې. ننګرهار پوهنتون. آنلاین.
.https://www.ketabton.com/bookfile/14526

مايار، **محمد عاصم**. (2018). د افغانستان اوبه: لومړی باید له کوم ګاونډي سره ستونزه حل شي؟. BBC.

ستانکزی، صفي الله. (1399). د قوشتېپې کانال د افغانستان لپاره څومره مهم دی؟. آزادي.